بانک
د افغانستان بانک میاشتنۍ مجله
شپاړسم کال، ۱۸۳ مه ګڼه د ۱۴۴۴ کال د ربیع الاول ( ۱۴۰۱ تلې) میاشت

# اسعاري زیرمې

## ساتنه، موخې، کارونه او مدیریت







# درنو هیوادوالو!

له نېکه مرغه بانکي نظام د کړکېچ له حالت څخه راوتی دی او اوس مهال يې کړنې د عادي کېدو په حال کې دي. له تاسو مننه کوو چې په دې موده کې مو له موږ سره په پوره حوصلې ملتيا وکړه، خو دا د کار پای نه دی.

موږ ستاسو همکارۍ ته اړتیا لرو، موږ ټول باید لاس په کار شو، تر څو بانکي سکتور د پرمختګ پړاو ته ورسوو. پر بانکي سکتور ستاسو باور کولای شي چې یاده لاسته راوړنه په ښه توګه تر لاسه کړو.








خلک + بانک = وده او پرمختګ



# بانک

| لړلیک | مخ |
|---|---|


| | |
|---|---|
| ملت ته د حساب ورکولو برنامه کې د افغانستان بانک د غوره کړنو او فعالیې... | ۱ |
| برگزاری نود و پنجمین ونود وششمین جلسه هیئت مدیره بانک تجارت و... | ۲ |
| اسعاري زېرمې ساتنه، موخې، کارونه او مدیریت | ۳ |
| مدیریت نقدینگی در بازارهای مالی و بانکی اسلامی | ۵ |
| د یورو د ارزښت د ټیټېدو لاملونه | ۹ |
| مدیریت و برنامه ریزی مالی | ۱۳ |
| د پیسو د ارزښت د کموالي عوامل | ۱۵ |
| عوامل نابرابری در کشور های توسعه یافته و توسعه نیافته | ۱۷ |
| اقتصادي خبرونه | ۱۹ |
| ځوانانو! که غواړئ چې ښه اقتصاد ولرئ دا کارونه تر سره کړئ | ۲۱ |
| آیا می خواهید شغل پُر درآمد داشته باشید | ۲۳ |
| په هیواد کې د جلغوزیو اقتصادي ارزښت | ۲۵ |
| مالي پوهه د پانګوالو په مالي مدیریت څه اغېزه لري؟ | ۲۸ |



د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سداد، مفتي عبدالله آخندزاده او خواجه عصمت الله ځلاند

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسئول مدیر: حسیب الله نوري

خبریالان: سید خالد خالقیار او عبدالحفیظ شاهین

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوټوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسؤل: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه



پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af



د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube    twitter.com/AFGCentralbank    www.facebook.com/AFGCentralbank




# ملت ته د حساب ورکولو په برنامه کې د افغانستان بانک د غوره کړنو او فعالې ونډې اخیستنې له کبله د افغانستان بانک مشرتابه ته د ستاینلیک ورکړه

۱۴۴۴ربیع الاول ۱ – د افغانستان بانک سرپرست رئیس ښاغلي عبدالقاهر ( حاجي ادریس) ته ملت ته د حساب ورکولو برنامه کې د افغانستان بانک غوره کړنو او فعالې ونډې اخیستنې له کبله د ریاست الوزرا د اقتصادي معاونیت لخوا ستاینلیک ورکړل شو.

په هغه غونډه کې چې ملت ته د حساب ورکولو برنامه کې د دولتي ادارو او رسنیو د غوره کړنو او فعالې ونډې اخیستنې د ستاینې په موخه جوړه شوې وه، ۴۳ دولتي ادارو ته د ریاست الوزرا د محترم مقام لخوا ستاینلیکونه ورکړل شول او د دوی له غوره کاري کړنو او فعالې ونډې اخیستنې مننه وشوه.

دیادونې وړ ده چې د افغانستان بانک روڼتیا او حساب ورکولو ته ژمن دی او په همدې موخه یې په تېر یو کال کې له رسنیو سره غوره اړیکې پاللې او غوره لاسته راوړنې یې درلودلې چې د فعالیتونو او لاسته راوړنو بشپړ راپور یې د روان ۱۴۴۴ کال د محرم الحرام میاشتې په ۱۳ مه نېټه د حکومت د رسنیو په مرکز کې له خلکو سره شریک کړل شوی دی.

د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی د ریاست الوزرا له درانه مقام څخه د مننې تر څنګ ژمنه کوي چې پدې برخه کې به لا ډېرې هڅې کوي او خلکو ته د خدمت په موخه به د بانکوالۍ سکتور په برخه کې لا ډېرې اسانتیاوې رامنځته کړي.



# برگزاری نود و پنجمین و نود و ششمین جلسهٔ هیئت مدیره بانک تجارت و توسعه اکو ( ETDB )

۳ ربیع الاول ۱۴۴۴، نود و پنجمین ونود وششمین جلسه هیئت مدیره بانک تجارت وتوسعه اکو (ETDB) درشهر استانبول کشورترکیه برگزار گردید. در این جلسه رئیس بانک تجارت وتوسعه اکو و اعضای هیئت مدیره آن از کشور های عضو (ترکیه، ایران، پاکستان، افغانستان، آذربایجان، قرغیزستان) حضورداشتند که در این جلسه به نمایندگی از افغانستان محترم احمد جواد سداد آمرعمومی سیاست پولی دافغانستان بانک و عضو هیئت مدیره بانک تجارت وتوسعه اکو اشتراک نموده است.

در ابتداء صورت جلسه قبلی توسط اعضای هیئت مدیره به تصویب رسید. سپس در مورد اعطای قرضه به یکی از شرکت های ترکی و نیز در زمینه تجدید نظر سقف قرضه دهی به تعدادی از نهاد های مالی/ بانکی کشور ترکیه تصامیم اتخاذ گردید . متعاقباً گزارش به روز شده بازپرداخت قرضه های بانک ایکو به تعدادی از پروژه های زیربنایی کشور عضو ایران نیز ارائه گردید.

در اخیر پیرامون تعدادی از مقررات و پالیسی های بانک بشمول پالیسی منابع بشری بانک بحث گردیده و نیز در خصوص تشویق و ترغیب چهار کشور دیگر (ازبکستان، تاجیکستان، قزاقستان و ترکمنستان) جهت پیوستن به این بانک نیز بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

قابل تذکر است که بانک تجارت و توسعه اکو با هدف ایجاد، ترویج و ارائه تسهیلات مالی و اعتباری برای توسعه تجارت منطقه ای و همچنین تسریع توسعه اقتصادی کشور های عضو در زیر مجموعه سازمان اکو تأسیس گردیده است و افغانستان نیز منحیث عضو بانک متذکره در جلسات آن بطور منظم اشتراک و سهم فعال داشته است.

د افغانستان بانک همواره می کوشد تا روابط خویش را با بانکها و سایر سازمان های مالی بین المللی و منطقه بهبود بخشیده و در جهت ایجاد تسهیلات هرچه بیشتر، نقش برازنده ایفا نماید.

# اسعاري زېرمې

## ساتنه، موخې، کارونه او مدیریت



توحید صافی، د افغانستان بانک
د ژباړې د بورډ غړی



اسعاري زېرمې؛ چې بهرنۍ اسعاري زېرمې یا بهرنۍ زېرمې هم ورته ویل کېږي، هغه شتمنۍ دي چې د زېرمو یا ریزرف په بڼه د یو هیواد د مرکزي بانک لخوا په بهرنیو اسعارو کې ساتل کېږي. په دغو بهرنیو اسعارو کې امریکايي ډالر، یورو، سره زر، بیه لرونکې پاڼې (Securities)، پور پاڼې، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او نور اسعار شامل دي. د نړۍ زیات شمېر اسعاري زېرمې په امریکايي ډالرو ساتل کېږي او په دې توګه امریکايي ډالر نړیوال اسعار بلل کېدای شي او همدا لامل دی چې نړیواله سوداګري تر ډېره اسانه شوې ده. د زیاتو اسعاري زېرمو درلودلو له پلوه چین، د ۳ ټریلیونه امریکايي ډالرو څخه زیاتو اسعاري زېرمويه لرلو سره د نړۍ لومړنی هیواد دی، په داسې حال کې چې د ډومینیکن جمهوریت د ۰.۱۹ میلیارده امریکايي ډالرو اسعاري زېرمو په لرلو سره له دې پلوه د نړۍ وروستی هیواد بلل کېږي. د پیسو د نړیوال صندوق د معلوماتو له مخې، افغانستان د ۲۰۲۰ زېږدیز کال تر پای پورې شاوخوا ۹.۷۶ میلیارده ډالره اسعاري زېرمې لرلې، چې له دې ډلې ۲ میلیارده یې د بریتانیا، جرمني، سویس او عربي متحده اماراتو په بانکونو کې دي او پاتې د امریکا متحده ایالاتو د نیویارک په فدرال ریزرف بانک کې زېرمه شوي دي. د دغو اسعاري زېرمو یوه برخه د منل شویو اصولو پر بنسټ د امریکا په متحده ایالتونو کې په پانګه اچول شوې، چې هغې د خوندیتوب په ساتلو سره ځانګړو موخو ته د رسېدو لپاره د اړتیا پر مهال د افغانستان بانک په واک کې ورکول کېږي.

د نړۍ د هیوادونو مرکزي بانکونه د اسعاري زېرمو څخه د خپلو پولي «

سیاستونو په پلي کولو کې کار اخلي او د اسعاري زېرمو په لرلو سره کولای شي خپل پولي واحد (ملي پیسې) چاپ کړي، چې دا د هر مرکزي بانک یوه بنسټیزه موخه جوړوي. د افغانستان بانک هم د هیواد د مرکزي بانک په توګه، د قانون پر بنسټ د هیواد د اسعاري زېرمو د ساتلو او مدیریت کولو دنده پر غاړه لري. د افغانستان اسعاري زېرمې د اړوند قانون او مقررو پر بنسټ د پولي سیاست د پلي کېدو، له نړۍ سره د سوداګرۍ د اسانتیا او د هیواد د مالي نظام د ټینګښت په موخه کارول کېږي. مرکزي بانکونه خپلې اسعاري زېرمې د اړتیا پر مهال د لاندې موخو لپاره کاروي.

- د خپل پولي واحد د ارزښت لوړ ساتل او مدیریت کول.
- په بېړنیو حالاتو کې لکه: د پولي واحد د ارزښت د چټک ټیټوالي پر مهال د مرستندویه مالي وجوهو (Backup funds) په توګه کارول.
- د اقتصادي بحران پر مهال د نغدینګۍ (Liquidity) ساتل.
- بهرنیو پانګوالو ته د دوی د پانګونو د خوندیتوب ډاډمنه فضاء برابرول.
- د نړیوالو اداینو، د وارداتو د لګښتونو او سوداګریزو پورونو ورکول.
- په هیواد کې دننه نورو سکتورونو او پروژو ته مالي تمویل برابرول

د دې لپاره چې د یو هیواد له اسعاري زېرمو څخه سمه ګټه پورته شي، یو سالم مدیریت ته اړتیا ده چې تر ډېره دغه مدیریت په یو هیواد کې د مدیریتي اداري (معمولاً مرکزي بانک) لخوا ترسره کېږي او د اسعاري زېرمو د هر ډول مدیریت او اړوندو خطرونو مسؤل بلل کېږي. د افغانستان اسعاري زېرمې هم د ځانګړو موخو په پام کې نیولو سره د نړیوالو منل شویو معیارونو پر بنسټ مدیریت کېږي او د افغانستان بانک د دې زېرمو وضعیت په کره او دوامداره توګه څاري. مرکزي بانکونه باید د خپلو اسعاري زېرمو د سالم مدیریت لپاره د نړیوالو منل شویو معیارونو سره سمې ستراتیژۍ او پالیسیانې جوړې کړي څو د متوقعه بحرانونو او زیانونو پر مهال خپلې اسعاري زېرمې په اغېزناکه توګه مدیریت کړي او په دې توګه د بحران مخنیوی وشي، په بازار کې ډاډمنتیا او باور رامنځته شي او د اسعارو د نرخ د ټیټېدو مخه ونیول شي. د دې برعکس، ناسمې مالي، پولي او د اسعارو د تبادلې د نرخ پالیسی د اسعاري زېرمو د مدیریت پر وړاندې جدي خطر پېښوي او د کمزوري او له خطره ډک مدیریت په صورت کې د پام وړ مالي او اعتباري زیانونه رامنځته کېدای شي. ځینو هیوادونو له دې امله ستر مستقیم او غیر مستقیم مالي زیانونه لیدلي دي چې وروستۍ بېلګه یې سریلانکا ده چې له ۲۰۱۹ زېږدیز کال راپدېخوا یې د خپلو اسعاري زېرمو د ناسم مدیریت او کارونې له امله د خپلو زېرمو ۹۹ سلنه برخه له لاسه ورکړې او اوس ستر اقتصادي او مالي بحران تجربه کوي.

---

سرچینې:


1- Amadeo, K. (2020). Foreign Exchange Reserves and How They Work. The Balance

2- "IMF Data - Currency Composition of Official Foreign Exchange Reserve - At a Glance". International Monetary Fund. Retrieved 28 June 2019.

3- World Economic Forum. The Agenda Weekly. August, 2022.



# مدیریت نقدینگی در بازارهای مالی و بانکی اسلامی

ضرورت یکپارچگی سیستم های بانکی و مالی جایگاه ویژه ای در ایجاد و توسعه روابط بین  المللی دارد. بانک ها به عنوان واسطه برای سرمایه گذاران و وام گیرندگان عمل می کنند و مراودات پولی و مالی زیادی با بازارهای مختلف دارند. به همین دلیل همواره با خطرهای مختلفی مواجه هستند، ممکن است ورود یا خروج از بازار، کاهش یا افزایش یک یا چند نوع خطر را به همراه داشته باشد.

مدیریت نقدینگی

مدیریت نقدینگی به معنی قابلیت بانک برای انجام تعهدات مالی خود در طول زمان است. مدیریت نقدینگی که مبتنی بر مدیریت جریان نقدینگی است، شامل پیش‌بینی خالص وجوه مورد نیاز با توجه به عوامل روندی، فصلی، چرخه ای و رشد کلان بانک می‌باشد و نقدینگی مورد نیاز را برای فواصل طولانی‌تر شش ماهه تا دو ساله پیش‌بینی می کند.

مدیریت نقدینگی در بانک‌های اسلامی

از منظر بانکداری اسلامی، مدیریت نقدینگی به قابلیت بانک در تجهیز منابع برنامه ریزی شده و پاسخگویی به مطالبات مصوب اشاره دارد. بنابراین، توانایی بانک اسلامی در تامین نقدینگی مستلزم حفظ دارایی های مالی با نقدینگی بالا و قابلیت انتقال سریع است. از این رو، مدیریت نقدینگی یکی از بزرگترین چالش هایی است که سیستم بانکداری با آن روبرو است. زیرا بیشتر منابع بانک‌ها از محل سپرده‌های کوتاه مدت تأمین می‌شود و علاوه بر این تسهیلات اعطایی بانک‌ها صرف سرمایه‌گذاری در دارایی هایی می شود که درجه نقدشوندگی نسبتاً پایینی دارند.از طرف دیگر، وجود ابزارهای مختلف، مانند بازار بین البانکی یا دیگر بازارهای سرمایه که بر اساس نرخ بهره عمل می کنند، به مدیریت نقدینگی بانک‌های متداول کمک زیادی می کند، اما با توجه به آنکه بیشتر این ابزارهای مالی بر اساس میکانیزم نرخ بهره بنا شده‌است، لذا به علت حرام بودن ربا در اسلام نمی‌توان از آنها استفاده نمود، در نتیجه مدیریت نقدینگی در بانکهای اسلامی با پیچیدگی خاصی روبرو می‌باشد.

در نظام بانکی با توجه به سطح توسعه مالی کشورها، ابزارهای مرسوم مختلفی برای مدیریت نقدینگی ابداع شده است. به طور کلی نقدینگی مازاد از ۴ روش زیر مدیریت می شود.

تزریق مازاد به شبکه بانکی داخلی

سرمایه‌گذاری در اوراق بهادار دولتی

اعطای وام به مشتریان شرکت

حفظ وجوه اضافی در سطح نرخ بازده صفر درصد

تحقیقات نشان میدهد که در میان ابزارهای مدیریت نقدینگی، بازار بین البانکی یکی از مهمترین ابزارها در کشورهای پیشرفته است. در این بازار، بانک‌هایی که به نقدینگی نیاز دارند، از دیگر بانک ها به صورت کوتاه‌مدت وام می گیرند که معمولاً زمان سررسید یک شب تا یک سال است. در بازار پول بین بانکی، ابزارهای مالی با ویژگی های بسیار متفاوتی وجود دارد که در صورت دسترسی به آنها، گزینه های بسیاری از سوی بانک های متعارف برای استقراض و تعدیل جریان های نقدی کوتاه مدت ارائه می شود. از سوی دیگر، بازار ابزارهای مالی دست دوم خود به منبع مهم نقدینگی مدیریت تبدیل شده است. بگونه ای که بانکهای متعارف می توانند برای مدیریت نقدینگی خود، به آنها تکیه کنند. علاوه بر این، گواهی سپرده، قرارداد بازخرید، اسناد خزانه، اوراق تجارتی شرکت‌ها، تائیدیه بانک، تبدیل دارایی‌های بانک به اوراق بهادار، استفاده از مشتقات اعتباری و استقراض از بانک مرکزی (به منظور جلوگیری از ناپایداری در نظام مالی و اعتباری به عنوان آخرین ابزار در مدیریت نقدینگی مطرح می‌شود) از دیگر ابزارهای مدیریت نقدینگی بانک‌های متعارف به‌شمار می‌روند.

با توجه به اینکه بانک های اسلامی مانند بانک های متعارف دارای ریسک و مشکلات نقدینگی هستند، در نتیجه مدیریت نقدینگی مورد نظر برای بانک های اسلامی بسیار مشکل است. از این رو توصیه می شود برخی از ابزارها را تغییر دهید یا ابزارهای جدیدی ارائه دهید تا بانک های اسلامی توانایی استفاده از آن ها را داشته باشند.بنابراین لازم است بانک ها برای ایجاد رشد و توسعه اقتصادی از طریق جذب و هدایت پس اندازهای افراد پراکنده و در عین حال به رونق و تنوع در جامعه استفاده کنند. در این میان ایجاد بازار مالی اسلامی یکی از مهمترین اقداماتی است که با هدف کمک به بهبود و رفع نقدینگی دشوار بانک ها در کوتاه مدت انجام شده است. این بازار بین المللی به دنبال ایجاد ساختار مدیریت نقدینگی برای بانک ها یا بخش های اسلامی قابل دسترسی از طریق شبکه است.

»

## مشکلات مدیریت نقدینگی

بانک های اسلامی مانند سایر بانک ها ایجاب میکند تا نیازهای نقدینگی خود را برآورده سازند. برای این منظور باید ساز و کار مدیریت نقدینگی را به صورت مشخصی تعریف کنند. در این میان، بانک های اسلامی در امر مدیریت نقدینگی، با دو محدودیت اساسی نسبت به بانکداری متعارف مواجه هستند. یکی ضرورت به کارگیری وجوه مازاد، برای جلوگیری از کاهش سود آوری در مقایسه با بانکداری متعارف و دیگری ضرورت تطبیق نیازهای نقدینگی کوتاه مدت، برای جلوگیری از خطر مواجهه با کسری نقدینگی است. دیگر مشکلات مربوط به کنترل و مدیریت نقدینگی در بانک‌های اسلامی عبارتند از:

عدم وجود بازار بین البانکی اسلامی مورد پذیرش

- ممنوعیت سرمایه‌گذاری در ابزارهای مبتنی بر بهره
- عدم وجود بازار ثانویه اسلامی برای تسهیلات اعطایی
- پایین بودن درجه نقدشوندگی دارایی‌های مالی اسلامی
- کم بودن تعداد مشارکت‌کنندگان (بانک‌های اسلامی)
- کمبود ابزارهای مطابق با شرع
- ارائه تسهیلات با سررسیدهای نسبتاً بلندمدت
- تأمین مالی از طریق سپرده‌های کوتاه‌مدت و میان مدت
- ضعف در مدیریت خطر
- تکیه بیش از حد بانک‌های اسلامی بر روی دارایی‌هابرای مدیریت نقدینگی
- گسترش غیر بهینه مازاد نقدینگی
- ضعف در طراحی ابزارهای نوین مالی اسلامی و تفاسیر مختلف فقهی در مورد ابزارهای مالی اسلامی

## ابزارهای مالی مدیریت نقدینگی

مدیریت نقدینگی در بازارهای مالی اسلامی، در درجه اول به جایگزینی وجوه مازاد و سپس به رفع کمبودها و نیازهای نقدینگی کوتاه مدت می پردازد. لذا طراحی ابزارهای مناسب مدیریت نقدینگی در بانک های اسلامی از اهمیت قابل توجهی برخوردار می باشد. برخی از ابزارهای مدیریت نقدینگی در بازارهای مالی اسلامی عبارتند از:

صندوق سرمایه‌گذاری بازار پول

تأسیس و ایجاد صندوق اسلامی می‌بایستی از اولویت‌های اصلی بانک‌ها و سرمایه‌گذاران اسلامی باشد. زیرا مردم، موسسات مالی بزرگ و موسسات تجارتی اکثر کسانی هستند که از مازادها و کسرهای پیش‌بینی نشده نقدینگی ضرر می‌بینند. از این‌رو، هدف اصلی این صندوق، تأمین نقدینگی مناسب برای سهمداران، ایجاد سودی معقول به همراه بیشترین امنیت می باشد. عمده سرمایه‌گذاری‌های انجام شده در این صندوق‌ها از طریق مشارکت در مبادلات تجارتی، مضاربه، خرید و فروش کالا و استصناع صورت می گیرد. سهام این صندوق بر اساس ارزش خالص دارایی‌ها و به صورت روزانه قیمت‌گذاری می‌شود. به علاوه، اگر قیمت سهام از قیمت اسمی کمتر شد، صندوق تضمین می کند که قیمت خرید را به سهامدار پرداخت کند. از این رو، در بدترین حالت، بازده سهام صفر می‌شود. اگر ارزش سهام نیز رشد کند، فایده آن نصیب سهمداران می‌شود. با توجه به قرارداد سهمداران با صندوق، در صورت نیاز به نقدینگی، صندوق سهام را از بانک خریداری می کند و نقدینگی آن را تأمین می‌نماید.

مرابحه کالایی

یکی از ابزارهایی که باعث بهبود مدیریت نقدینگی و فرصت‌های سرمایه گذاری می شود، استفاده از مرابحه کالایی است که بر اساس مبادله کالا عمل می کند. این روش، در کشورهای حوزه خلیج فارس، به خصوص عربستان و امارات متحده عربی برای مدیریت نقدینگی در کوتاه‌مدت به کار می رود. سازوکار مورد استفاده به این صورت است که اگر بانکی با کمبود نقدینگی برای ارائه تسهیلات مرابحه و بانک دیگر با افزایش نقدینگی مواجه است، در این صورت، بانک اول سراغ بانک دوم می‌رود. بانک دوم کالای موردنظر مشتری بانک اول را خریداری می کند و با منفعت مشخصی، به صورت کوتاه مدت، به بانک اول می فروشد. بانک اول نیز با منفعت دیگری، به صورت نسیهٔ بلندمدت، به مشتری خود می‌فروشد. این روش که از دو قرارداد

»

مرابحه مدت‌دار تشکیل می گردد، می‌تواند ابزار مدیریت نقدینگی به حساب آید.

صکوک بانکی

یکی از ابزارهای مناسبی که می تواند جایگزین خوبی برای اوراق قرضه و جمع آوری نقدینگی باشد، صکوک است. صکوک اوراق بهادار اسلامی است که با درگیرکردن یک دارایی مشخص فیزیکی و بر اساس قراردادهای مشارکت، مضاربه، مرابحه، سلف، استصناع، اجاره و یا ترکیبی از آنها (اوراق بهادار ترکیبی) طراحی می‌شود. این اوراق دارای ارزش اسمی یکسان و با پشتوانه مالی تعریف می شود که پس از اتمام عملیات، بیانگر پرداخت مبلغ اسمی مندرج در آن توسط خریدار به ناشر بوده و دارنده آن مالک یک یا مجموعه‌ای از دارایی‌ها، منافع حاصل از دارایی و یا ذینفع یک پروژه یایک فعالیت سرمایه گذاری خاص می شود. رشد و توسعه بازار صکوک در چند سال اخیر، عمدتاً به دلیل نقش آن در کنترل نقدینگی مطرح شده است. زیرا، مدیریت نقدینگی به عنوان یکی از ارکان اساسی جهت گسترش بانکداری و توسعه بازارهای مالی اسلامی در نظر گرفته می‌شود.

بازار پولی بین البانکی

بازارهای بین البانکی با توجه به وضعیت و ماهیت خاص نقدینگی و نظام بانکی،یکی از مهمترین ابزارهای مدیریت نقدینگی به‌شمار می رود. هدف این بازار برقراری ارتباط صحیح و قانونمند بین بانک‌ها، تعامل سالم به منظور تبادل وجوه مازاد بین بانکها، تسریع در فرآیند تامین نقدینگی و در نتیجه مدیریت کاراتر نقدینگی خواهد شد. با توجه به آنکه ابزارهای مورد استفاده در بانکداری متعارف قابل استفاده در بانکداری اسلامی نیستند، لذا بازارهای مالی اسلامی به دنبال ابزارهای مناسب جایگزین منطبق با شریعت جهت ایجاد بازار بین بانکی می‌باشند. در این میان، مالیزی ادارای بازار پولی بین البانکی با هدف خرید و فروش ابزارهای مالی اسلامی میان مشارکت کنندگان در بازار، فعالیتهای سرمایه گذاری بین بانکی از طریق طرح سرمایه گذاری مضاربه بین بانکی، نظام تسویه و نیزپایاپای چک از طریق سیستم تسویه چک بین البانکی اسلامی و ابزارهایی مانند گواهی های پذیرش بانکی سبز، اسناد پذیرفته شده اسلامی، اوراق قرضه رهنی و اوراق بدهی خصوصی اسلامی است که در حال حاضر در بازار پولی بین البانکی اسلامی مالزیا بر اساس "بیع الدین" داد و ستد می‌شود.

به‌طور کلی بانک های اسلامی می توانند از جایگزین هایی برای ایجاد بازار بین البانکی اسلامی استفاده نمایند. از این رو، بانکی که با کمبود نقدینگی مواجه می گردد، می تواند از طریق ایجاد موافقت‌نامه‌هایی در قالب مشارکت در سود و زیان به بهره‌مندی از منابع مازاد سایر بانک‌ها (از طریق اعطای تسهیلات) و رفع مشکل نقدینگی خود بپردازد. از سوی دیگر در صورتیکه امکان استفاده از تسهیلات در یک دوره خاص وجود نداشته باشد، بانک ها می تواننديک توافق همکاری بین البانکی برای گسترش مساعدت های متقابل ایجاد کنند و در نهایت اینکه بانک ها می توانند با ایجاد صندوق مشترکی در بانک مرکزی، زمینه های ایجاد همکاری‌های مشترک را افزایش دهند.علاوه بر این، بازار بین بانکی می تواند افزون بر تقویت ابزار سپرده گذاری متقابل از ابزارهای کاراتری مانند: خریدوفروش قرضه، خریدوفروش اسناد خزانه اسلامی، تشکیل صندوق با گواهی سپرده بانکی، اوراق مشارکت و دیگر اوراق بهادار اسلامی (صکوک) برای سازمان دهی بازار استفاده کنند.●

---

منابع:

۱- مدیریت نقدینگی در بازارهای مالی اسلامی/ لیلا محرابی (کارشناس پژوهشی)

2- https://www.mbri.ac.ir/IslamicBanking/IslamicBanking_Page?News_ID=171349
3- Liquidity Management by Islamic Banks: An Issue or a Contrivance for Risk-Free Returns
4- https://www.researchgate.net/publication/326539600_Liquidity_Management_by_Islamic_Banks_An_Issue_or_a_Contrivance_for_Risk-Free_Returns
5- Managing Liquidity Risk in Islamic Finance/DR. MUHAMMAD AL-BASHIR MUHAMMAD AL-AMINE/ Group Head, Shari'ah Assurance Department, Bank Al Khair
6- https://www.oreilly.com/library/view/contemporary-islamic-finance/9781118180907/13_chapter-07.html





# د یورو

## دارزښت د ټیټېدو لاملونه

لیکنه: عباد الله عابد د پولي سیاست د لوی آمریت د مبادلې د نرخ لوی آفیسر

یورو نن ورځ په نړۍ کې یو له خورا مهمو اسعارو څخه ګڼل کیږي چې د اروپایي ټولنې د ۲۷ غړو څخه د ۱۹ هغو رسمي پولي واحد دہ، دا ۱۹ هیوادونو په ګډه سره د یورو سیمه جوړوي، خو په ورته وخت کې یورو په ټوله نړۍ کې په پراخه کچه کارول کیږي او له همدې امله دا د انکر کرنسۍ په نامه هم یادیږي.

که څه هم د آلمان، فرانسې او ورته هیوادونو په څېر پیاوړې او باثباته پولي واحد درلودلې، یورو په اروپایي ټولنې کې د واحدې کرنسۍ په توګه بازار ته معرفي شوه، ترڅو ټولیز ثبات او وده رامنځته کړي او په ورته مهال کې د اروپایي ټولنې له غړو سره په راکړه ورکړه کې اسانتیا راولي، نو موږ کولای شو ووایو چې یورو د اسعارو په توګه د اقتصادي او پولي ټولنو په پایله کې رامنځته شوې، چې پولي ټولنو لاندې درې پړاونه لرل.

لومړی پړاو:د پروسې لومړی پړاو د اروپایي اقتصادي ټولنې د غړو هیوادونو ترمنځ د پانګې په حرکت باندې د خنډونو په لیرې کولو متمرکز و، چې دې پړاو په ټوله کې درې کاله وخت ونیو. دویم پړاو : د اقتصاد او د پیسو ټولنو په دویم پړاو کې د اروپا د پیسو انسټیټوټ جوړ کړ. د اروپا د پیسو انسټیټیوټ ته دنده ورکړل شوې وه چې د پیسو ټولنې بنسټ جوړ کړي، څو یو واحد اسعاري بلاک ته د لیږد هڅې همغږې کړي.چې

»

پدې مرحله کې د نويو نوټونومونې هم چاپ شوې.

دریم پړاو: د پیسو ټولنې وروستۍ مرحله په ۱۹۹۹ زیږدیز کال کې پیل چې د دې مرحلې مهم کار د ۱۱ غړیو هیوادونو د تبادلې نرخ نه بدلیدونکی تعدیل و، چې موخه يې د واحد اسعاري پولي پالیسی ترسره کول ؤ او وروسته په ۰۱/۰۱/۲۰۰۲ زیږدیز کال کې د یورو سکې او بانکنوټونه بازار ته هم وړاندې شول.

د ۲۰۰۱ او ۲۰۰۸ زیږدیزو کالونو ترمنځ یورو د امریکایي ډالرو په وړاندې د پام وړ ارزښت لوړ شو حتی په ۲۰۰۸ زیږدیز کال کې یو یورو د ۱.۴۷ امریکایی ډالرو په مقابل کې تبادله کیده.




**د یورو ناورین**

په ۲۰۰۸ زیږدیز کال کې د اروپا د پور ناورین د ایسلینډ د بانکوالۍ سیسټم له سقوط سره پیل شو چې په ۲۰۰۹ زیږدیز کال کې بیا په لومړنۍ بڼه پرتګال، ایټالیا، آیرلینډ، یونان او اسپانیا ته هم وغځید. چې د همدې ناورین له امله په اروپا کې اقتصاد او سوداګرۍ هم باور له لاسه ورکړ. خو د اروپایي هیوادونو مالي تضمینونو و کولای شول چې دا ناورین کنټرول کړي. د ناورین له امله یورو ارزښت راټیټ شو ځکه چې د اروپایي هیوادونو اقتصاد په رکودي حالت کې شو چې د همدې سیمې هیوادونه د تادیاتو د بیلانس له ناورین سره هم مخ شول.

په همدې ډول په ۲۰۱۵ کې د یورو ارزښت ډیر زیات د اسعارو په وړاندې راټيټ شو چې درې اساسي لاملونه يې لرل:

- د اروپایي ټولنې مرکزي بانک د اقتصادي ودې د رامنځته کیدو په پار د سود نرخ را ټيټ کړ.
- د متحده ایالاتو مرکزي بانک له لوري د سود د نرخ د ډیرښت احتمال.
- په یونان کې ژور اقتصادي کړکیچ.

له اروپایي ټولنې څخه د انګلیستان وتلو په یورو منفي اغېز درلود، خو بیا هم د امریکایي ډالرو په وړاندې یې ارزښت لوړ و. خو په دې وروستیو کې یورو ارزښت ډیر راټيټ شو چې له امریکایي ډالرو سره مساوي تبادله کیده او اوس مهال د یورو ارزښت نور هم رالوېدلی دی. اساسي عوامل یې جیوپولیټیک کړکیچونه او اقتصادي لاملونه دي.

د روسیې او اوکراین جنګ د یورو د راټيټیدو د محرک نقطې په توګه ګڼل کیږي، چې د انرژۍ ناورین په ټوله نړۍ او په ځانګړې توګه په اروپا کې د پیسو پړسوب لوړې کچې ته لاره هواره کړې ده.د دې تر څنګ نور لاملونه هم شته چې د یورو د راټيټیدو لامل ګرځي چې په لاندې ډول یادونه کوو:

- **د لیږدخنډونه:** د اوسني اقتصادي تحرک د پوهېدو لپاره، موږ اړتیا لرو چې د ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ زیږدیزو کلونو ته کتنه وکړو کله چې کوویډ ۱۹ نړیوال اقتصاد ته زیان ورساوه او هرڅه په بشپړ ډول ودریدل، خو کله چې اقتصادي کړنې ورو ورو بیرته پیل شوې بازارونه پرانیستل شول، خو هغه تقاضا چې په بازار کې موجوه وه د لیږد د لارو د خنډ له امله پوره نه شوه چې په پایله کې د پیسو پړسوب رامنځته شو.

- **د متحده ایالاتو مرکزي بانک قوي غبرګون:** د ۲۰۲۲ زیږدیز کال په لومړۍ نیمايي کې د متحده ایالاتو د پیسو پړسوب لوړې کچې ته ورسید چې د متحده ایالاتو مرکزي بانک د پیسو د پړسوب د کنټرول په پار د سود نرخ په لوړولو پیل وکړ چې دا د دې سبب شوه چې د یورو ارزښت راکم شي ځکه چې په نړیوال بازارونو کې د سود نرخ د اسعارو د ارزښت په معنی ده.
د اروپايي ټولنې مرکزي بانک د بازار شاخصونو ته په ځنډ سره عکس العمل ښودلی او دا د یورو ضعیف کیدو لامل شوی.

- **د اقتصادی رکود ویره:** د متحده ایالاتو مرکزي بانک او نورو مرکزي بانکونو لخوا د سود نرخ لوړیدل اقتصادي رکود ته لاره هواروي، په ټوله نړۍ کې بازارونه د دې نرخونو اغیزې احساسوي، د نوي پانګونې مخه نیسي او په خورا سختو حالاتو کې دا کولای شي چې د کاروبارونو څخه د پیسو د راوتلوسبب شي او په پای کې د اقتصادي کړنو د راټولیدو لامل شي. د یادونې وړ ده چې په اروپا کې اقتصادي کړنو د کمیدو د اندیښنې له امله د یورو ارزښت نور هم ټیټ شو.



- **د روسیې او اوکراین جګړه:** د اوکراین پر سر د روسیې له خوا د ځانګړو عملیاتو له اعلان وروسته، لوېدیځ پر روسیې سخت اقتصادي بندیزونه ولګول چې له امله یې په اروپا کې د انرژۍ د کمښت وېره د بیې د لوړېدو لامل شوه او همدارنګه، د جګړې په جریان کې، اروپايي ټولنې د روسیې په تیلو او ګازو باندې خپل تکیه کمه کړې، مګر نشي کولای د هغې سره د تړلو اغیزو مخه ونیسي، د بیلګې په ډول د انرژۍ کسر د انرژۍ د بیو د لوړېدو لامل کېږي چې په پایله کې یې د پیسو د پړسوب کنټرول سختوي.

**د یورو راتلونکی**

په بې ساري ډول د یورو د ارزښت ټیټېدل، د پیسو د پړسوب د کنټرول لپاره د اروپايي ټولنې مرکزي بانک څخه د سم لاسي او قوي اقداماتو غوښتنه کېږي، او باید بازار ته ډاډ ورکړي چې یورو به بیرته خپل پخواني حالت ته راشي او نه یوازې د اروپايي ټولنې مرکزي بانک بلکې د حکومت ټوله اداره باید د اوسني اقتصادي ناورین د اداره کولو لپاره خپلې کړنې همغږې کړي.

جیوپولیټیک کړکیچونه باید د اروپا او په ټولیزه توګه د ټولې نړۍ د ښېګڼې لپاره حل شي. د انرژۍ نړیوال بازار تر دې دمه د روسیې د محصولاتو د بندیز له امله رامنځته شوي تشې ډکولو لپاره هیڅ روښانه امکانات ندي ښودلي، په هغه صورت کې چې د اروپا د انرژۍ کسر په ښه توګه مدیریت نشي نو یورو به نوره هم وغورځي ځکه چې د انرژۍ‌ناورین یا کمښت په مستقیمه توګه اقتصاد اغېزمنوي.

سرچینې

https://www.ecb.europa.eu/euro/html/index.en.html

https://www.theguardian.com/business

Refinitiv؛ Wall Street Journal(statistica)

# د افغانستان بانک خبرتیا

له دې لارې هیوادوالو ته خبر او ډاډ ورکول کېږي چې، د د افغانستان بانک د افغانۍ بانکنوټونو د چاپ په برخه کې له پلان سره سم د پام وړ پرمختګونه کړي او هیواد ته د دغو بانکنوټونو د رارسېدو پړاوونه به له پالیسۍ سره سم پیل شي. دا بانکنوټونه د هیواد د معقولو پولي سیاستونو پر بنسټ، د اقتصادي ودې او په بازار کې پیسو ته له اړتیا سره سم خپرېږي. همدارنګه زاړه بانکنوټونه به په سیستماتیک ډول او په دې برخه کې د شته کړنلارې پر بنسټ راټولېږي او له دوران څخه ایستل کېږي.

د افغانستان بانک له خپلو هیوادوالو څخه غوښتنه کوي، څو د بانکنوټونو د ساتلو اړینو تدابیرو او د راکړې ورکړې په اوږدو کې د مسؤلانه چلند په پام کې نیولو سره، د افغانۍ بانکنوټونو د ژر زړېدو مخه ونیسي او د دې ملي پانګې په ساتنه کې خپله ونډه ترسره کړي.



# مدیریت و برنامه ریزی مالی

عبدالحفیظ شاهین

این یک حقیقت مسلم است که موقعیت مالی خوب امروز فردای خوب را برای ما ضمانت نمی کند. زیرا نداشتن برنامه ریزی مناسب و به موقع اثرات نا گواری را برای ما به دنبال خواهد داشت.

در شرایط کنونی نیاز های زندگی ما همیشه در حال تغییر میباشد. در حال حاضر اگر کسی از موقعیت مالی خوبی برخوردار است به این معنا نیست که در آینده نیز از موقعیت مالی خوبی برخوردار خواهد بود. از دست دادن درآمد و سرمایه گرچه موقتی هم باشدمنجر به تمام شدن بخش زیادی از پس انداز می گردد یا هم یک فرد را قرض دار می سازد.

در زندگی روزمره، ضرر و زیانی که بیمه نشده باشد، امکان دارد که تمام دارایی جمع کرده ی چند ساله را به یک بارگی از بین ببرد. قرض کردن بدون برنامه ریزی برای یک فرد پس انداز منفی به جا گذاشته یا هم در آینده فرد را قرض دار می سازد.

این یک امر معمول است که برنامه ریزی مالیاتی ضعیف موجب پرداخت هادر مواردی می گردد که مشمول پرداخت نمی باشند. بی برنامه گی در عرصه اقتصادی همراه با تغییرات دیگر در نیاز های زندگی فرد و نسل های بعدی آن را از نظر مالی آسیب پذیر میکند.

بناءً باید درآمد فعلی همراه با درآمد آینده مطابق نیاز های زندگی مدیریت درست و برنامه ریزی شود. برنامه ریزی خوب به یک فرد کمک می کند تا از نظر مالی به جایی برسد که ضرورت نداشته باشد تا برای پول کار کند بلکه پول برایش کار کند. برنامه ریزی خوب دارایی فعلی برای رسیدن به اهداف یک فرد در آینده می باشد. دارایی فعلی در حاضر ثروت را تشکیل می دهد، در آینده این دارایی ها درآمد، مصارف، پس انداز، دارایی و بدهی ها را تشکیل می دهد.

هدف زندگی انسان عبارت از تحصیل بالاتر برای فرزندان، خرید خانه، باز نشستگی و غیره می باشد. بناءً برنامه ریزی خوب و به موقع بودجه، جهت رسیدن به آرامش خاطر در دوران زندگی خیلی مهم است. هرچه زود تر برنامه ریزی مالی در زندگی اتفاق بیافتد، نتایج بهتر و خوب تر در پی دارد. روی همین علت افراد جوان که به تازگی وارد بازار کار می شود، می توانند از این ابزار استفاده اعظمی نمایند. برنامه ریزی مالی در حیات یک فرد مانند نقشه راه در جریان »



سفر او است. بخاطر اینکه برنامه ریزی مالیاتی به طور مداوم در حال تغییر است، شرایط مالی و درآمد خانواده ها نیز در حال تغییـر می باشدبرنامه ریزی مالی هم باید به مرور زمان تغییر یابد.

در زندگی انسان وقوع اتفاقات غیر پیشبینی می تواند سلامت فرد یا اعضای خانواده او را به خطر مواجه بسازد. در این مورد استـفاده از بیمه می تواند شرایط آسان تری را برای خروج از چنیـن معضل فراهم آورد. بناءً لازم است تا بیمه جزء زندگی یک فرد شود.

برنامه ریزی مالی در دوران باز نشستگی نیـز از اهـمیـت زیـادی برخوردار است، زیرا در این دوره فرد فعالیت کاری نداشته و درآمد مالی ماهانه هم ندارد، در این دوره حساس باید روی بـرنـامـه ریـزی مالی و مصارف زندگی توجه جدی صورت گیرد.

در مورد برنامه ریزی بدهی ها باید گفت که در این مـورد مـیـزان درآمد و نقدینگی فرد همراه با میزان تعهدات و بدهی های آن مـورد توجه قرار می گیرد. در این جا محل هزینه کردن و خـرج کـردن و نحوه باز پرداخت بدهی ها بایدمورد بر رسی قرار گیرد. با مدیریت و بررسی کامل باید باز پرداخت ها صورت گیرد.

در صورت مدیریت موارد فوق محل مصارف باید بهینـه شـده بـاز پرداخت بد که دارای بدهی بالا می باشند و یا بدهی هـای کـه سـر رسید های آنها نزدیک می باشند در اولویت قرار گیـرد. در مـقـابـل بدهی های خوب قرار دارد که دارای بهره کم بوده و برای سـرمـایـه گذاری های مانند خرید خانه و سایر گردش مالی یا یـک کسـب و کار یاسرمایه گذاری خاص با درآمد مناسب از آن گرفته می شود.

هر یک موارد فوق شامل یک برنامه ریزی هدفمند و اساسـی است که می تواند سایر موارد رانیز تحت تأثیر قرار دهـد. در حـقـیـقـت، برنامه ریزی مالی عبارت از مجموعه ی از پیشبینی های است که هـر کس باید برای یک زندگی مرفه در آینده مد نظر داشته بـاشـد. ایـن گونه برنامه ریزی مالی تنها مربوط پس انداز از سرمایه هنگفت نـمـی شود. بلکه این برنامه دارای جنبه های مختلف بوده، که می تـوان از برنامه های مالی کوچک نیز آنرا آغاز کرد.

منابع:

۱-اهمیت برنامه ریزی مالی برای سازمان ها – نرم افزار حسابداری قیاس / https://www.gheyas.com › blog

۲- –ما هی الخطة المالیة؟ وما هی أهمیتها للشرکات الناشئة؟ / تاریخ نشر / ۲ /۱۲ / ۱۳۹۹ / https://dotmal.net

۳- Financial Planning Australia - Search Top Results / ·https://www.izito.ws/search/kabul





عبدالله مایار
د افغانستان بانک اقتصادي شنونکی

# د پیسو د ارزښت د کموالي عوامل

پیسې د قانوني اقتصادي ماهیت په توګه یو له مهمو موضوعاتو څخه دي، د پیسو د ارزښت کموالی په حقیقت کې د تبادلې د ځواک د کمښت په معنی دی.

د پیسو د ارزښت بدلون د معاصر پولي اقتصاد یوه پدیده ده او د اجناسو څخه فلزي سکو ته د پیسو بدلون د څو پېړیو لپاره دوام وکړ او د ۱۸ مې پېړۍ څخه د تبادلې او بیا بانکونو په رامنځته کېدو سره کاغذي پیسې رامنځته شوې.

د پیسو ارزښت معنی د توکو د پېرودلو ځواک دی. د بېلګې په توګه که مونږ په یوه اندازه پیسو باندې ډېر توکي پېرلای شو، نو د پیسو ارزښت لوړ دی او که په یوه اندازه پیسو لږ توکي وپېرلای شو، نو د پیسو ارزښت ټیټ یا کمزوری دی.

دلته ویلای شو چې د پیسو ارزښت یا ځواک مستقیماً د توکو له پېرلو سره تړاو لري یا په بل عبارت کله چې توکو عمومي نرخونه لوړېږي، نو د پیسو ارزښت ټیټېږي یا کمېږي او کله چې عمومي نرخونه کمېږي، نو د پیسو ارزښت زیا تېږي.

د پیسو د ارزښت کموالی یوه مهمه او اغېزمنه پدیده ده، چې دوام یې پر اقتصاد بد اغېز لري. د ملي پیسو د ارزښت ساتل او پیاوړي کول په اقتصادي وده او ملي تولید پورې اړه لري، د اقتصادي کار پوهانو په اند په داسې حال کې چې د ملي پیسو د ارزښت کمزوري کول د هر اقتصاد لپاره په پټه خوله مرګ دی همدارنګه د اقتصاد په بنسټیز جوړښت کې د بې ثباتۍ نښه ده. هغه اقتصادونه چې د تولید له ستونزو سره مخ دي تل د تبادلې په نرخونو کې د سختو بدلونونو سره مخ کېږي.

**د افغانیو د ارزښت د راټیټېدو مختلف لاملونه:**

د ډالر پر وړاندې د افغانیو د ارزښت د راټیټېدو لاملونه په لاندې ډول دي:

**د نړۍ په بازارونو کې د ډالر د ارزښت زیاتوالی:**

د ډالر پر وړاندې د ملي اسعارو د ارزښت د راټیټېدو لامل یوازې

«

په افغانستان کې نه دی محدود شوی، بلکې د نړۍ په اسعاري بازارونو کې هم د نورو اسعارو پر وړاندې د ډالر ارزښت لوړ شوی دی.

د بېلګې په توګه: په دې وروستيو کې پاکستانی روپی، هندي کلدارې او ايراني ريال هر يو د امريکايي ډالر په مقابل کې خپل ارزښت په ترتيب سره ٪۶، ٪۴ او ٪۱۲ له لاسه ورکړی دی، خو د ډالر پر وړاندې د افغانيو ارزښت يوازې ۴ سلنه راټيټ شوی دی.

**په افغانستان کې د ډالرو پر وړاندې د افغانيو د ارزښت د ټيټيدو اقتصادي اغېزې:**

د ډالرو د ارزښت لوړېدل مثبته اغيزه هم لري، د ډالرو د بيې لوړېدل د کار د بيې د راټيټېدو لامل کيږي او دا کار هغو کسانو ته چې په توليداتو بوخت دي د بهرنيو توکو سره سيالي کوي. او خپل مالونه د بهرنيو توکو په پرتله په ټيټه بيه وړاندې کوي، په دې صورت کې به د ملي اقتصاد بنسټ پياوړی شي. همدارنګه د ډالرو لوړېدل پر صادراتو مثبت اغېز لري ، چې په پايله کې د صادراتو څخه زياتې پيسې ترلاسه کيږي.

خو افغانستان چې يو توليدونکی هيواد نه دی، د ډالرو د لوړېدو او د بيو راټيټېدلو د کارګرانو او بې وزله خلکو ژوند اغېزمن کړی دی.

**ناوړه سياسي او امنيتي وضعيت:**

په تېرو کلونو کې د افغانستان د اسعارو د ودې او ثبات پر وړاندې د افغانيو د ارزښت د ودې او ثبات پر وړاندې تر ټولو لوی خنډ د افغانستان سياسي وضعيت او د افغانستان بانک د منجمد شويو پيسو خلاصون او په نړۍ کې د وروستيو کړکېچونو پرمختګونه او په ځانګړې توګه د اوکراين جګړه ده او همدارنګه د امريکا متحدو ايالتونو او د نړيوالې ټولنې د مرستو د کمېدو له امله د بهرنيو اسعارو په ځانګړې توګه د ډالرو پر وړاندې د افغانيو ارزښت راټيټ شوی دی. نو له دې کبله په افغانستان کې داسې نورو عوامل شته چې اوسني اقتصادی ستونزې يي را ولاړې کړي دي .

**د اسعارو پر وړاندې د افغانيو د ارزښت د ثابت ساتلو لار څه ده؟**

په اوږد مهال کې بايد صادراتو او کورنيو توليداتو ته زياته پاملرنه وشي. په تېرو کلونو کې د افغانستان د صنعت اته سلنه وده او د صادراتو زياتوالی د اقتصادي ثبات او د اسعارو د نرخ د ثبات لپاره ښه خبرونه وو.

د اوسني پولي سياست د ساتلو ترڅنګ لومړی دولت بايد په رواني لحاظ بازار کنټرول کړي. دويم، د پيسو د تزريق پالېسيانو سره د ډالرو قاچاق او د پانګې وتلو سره مبارزه په افغانيو به سوداګريزې راکړې ورکړې عامې شي، د دې کارونو سره ملي پيسې يو څه پياوړې کيږي.●


سرچينې:

- په افغانستان کی د پيسو او بانکداريی له نظرياتو او سياست څخه د ګټې اخيستنې امکانات ،پوهنوال دوکتور محمد انور (شبان) ، ۱۳۹۶ لمريز کال ، صفحه (۴۷)
- آصفي، مهدي (۱۳۷۵ ) آيا پول از قيميات است يا از مثليات، پول در نگاه فقه و اقتصاد، انتشارات موسسه فرهنگي انديشه.
- يوسفی، احمد علی (۱۳۸۱» ،(بررسی و نظريه هاي جبران کاهش ارزش پول .
- رحيمی بروجردی (۱۳۷۲) بررسی تاثيرات کاهش ارزش پول .
- بهمنی اسکويی ، محسن (۱۳۷۲) اثرات کلان اقتصادی کاهش ارزش پول .

27.chapra, M. Umer(1985) ,Towards a just Monetary system, The Islamic Foundation, leicester, U. K-

Karshenas,M.(1990). Oil,stateandindustrializationinIran.CambridgeUniversityPress-

*Brown, Christian; Abraham, Fred (October 2012). "Sum of Perpetuities Method for Valuing Stock Prices". Journal of Economics.* ***38*** *(1): 59–72. Retrieved 20 October 2012*

**نويسنده :**عرفان معماريان سيد احمدرضا جلالی نايينی / **منبع :**پژوهشنامه اقتصادی تابستان ۱۳۸۹ شماره ۳۷

**نويسنده :**سعيد حکيمی ها مجتبی الهيان محمدحسين عالمی / **منبع :**معارف فقه علوی سال دوم پاييز و زمستان ۱۳۹۵ شماره ۳

# عوامل نا برابری در کشور های توسعه یافته و توسعه نیافته

عبدالحفیظ شاهین

موضوع برابری مانند آزادی یکی از قدیم ترین آرمان های بشری است. در این عرصه پیامبران الهی، روشنفکران و آزادگان همه در این راه در طول قرن های متمادی تأکید داشته و زجر کشیده اند. در این مورد باید گفت که ساختار اجتماعی اعم از توسعه یافته و کم تر توسعه یافته به گونه است که بنا بر عوامل مختلف به مرور زمان نا برابری در آن به وجود می آید.

در این عرصه گرچه دولت های کشور های کم تر توسعه یافته کوشش می کنند تا برابری را ترویج دهند، اما شرایط و واقعیت های موجود در این کشور ها نشان دهنده آن است که اوضاع نا برابری در کشور های کمتر توسعه یافته خرابتر و نا بسامان تر بوده و نا برابری های گوناگون سیاسی، فرهنگی، اجتماعی، فقر، تبعیض، فساد مالی و اقتصادی بیشتر بوده و این همه سبب میگردد تا امید به زندگی آبرو مندانه ی مردم، بخصوص قشر تحصیلکرده روز بروز کاهش یافته، فرار مغز ها و مهاجرت نیروی انسانی مستعد به کار روز بروز بیشتر شود.

در چنین حالت پرسش های زیادی به میان می آید که چرا کشور های توسعه یافته نسبت به کشور های کمتر توسعه یافته درآمد خوبتری دارند. پاسخ این است که کشور های توسعه یافته از لحاظ ساختار قشر بندی با کشور های کم تر توسعه یافته تفاوت زیادی دارند و این تفاوت ها در میزان رشد اقتصادی، میزان مشارکت، میزان تحرکات اجتماعی و میزان صنعتی شدن سرچشمه می گیرند.

گفته می شود که برای بار اول تمدن صنعتی در کشور های سرمایه داری به وجود آمده است، این تمدن دارای ابعاد مثبت و منفی زیادی بوده است که در ذیل بخش های مثبت آن بطور خلاصه بیان می گردد.

-در کشور های توسعه یافته به صورت آشکارا به مشاهده می رسد که در وضعیت زندگی مردم در چنین کشور ها به گونه ی قابل ملاحظه نسبت به گذشته مردم از تغذیه و سایر ضروریات زندگی



بهتر برخوردارند.

-از برکت تکنالوژی انسان های که از انجام کار های طاقت فرسا رنج می بردند بی نیاز شده اند.

-افزایش توانایی انتخاب در همه مردم بخصوص در میان زنان و کودکان در انتخاب شغل و نوعیت زندگی شان افزایش یافته است.

-وابستگی متقابل در میان مردم، جهان را به یک دهکده ی کوچک مبدل ساخته و هر آنچه در یک گوشه دنیا رخ دهد، تمام جهانیان از آن آگاه می شوند

»

–دوران شکوفایی استعداد ها و به کار گیری قوه ی ابتکار در موارد مختلف از جمله در روابط اجتماعی، سیاسی، اقتصادی،



مدیریت خوب و حاکمیت قانون به میان آمده است.

–بالا رفتن میزان تحمل پذیری نسبت به گذشته در مورد تحمل مسایل مذهبی، آداب، رسوم، قوانین و غیره به میان آمده است.

## پیامد های منفی

–گسترش و افزایش طبقات و فقر بی حد در میان طبقه پایین جامعه

–به وجود آمدن روابط مادی و از خود بیگانگی در میان جامعه

–با به میان آمدن شرکت های بزرگ و احزاب قوی آزادی و برابری در میان طبقات فقیر از بین می رود

–در جوامع بشری لذت گرایی، اعتیاد، ایدز و غیره شیوع می یابد.

–افزایش مصارف در میان طبقه مرفه سبب آلودگی محیط زیست شده، آثار مثبت اقتصادی درمعرض خطر قرار می گیرد.

–در جوامع مدرن، افراد به دنبال کالا های مادی در یک مسابقه دشوار جهت کسب مشاغل یا هم کسب موقعیت های اجتماعی بالا تر گرفتار شده، در نهایت جوامع بطور عمده از نظام های معنوی تهی می شوند.

در این مورد گیدنزکه جامعه شناس انگلسی، استاد پوهنتون کمبریج و مدیر دانشکده اقتصاد لندن بود، تولید، سرمایه گذاری و صنعت گرایی را به چهار بخش تقسیم نموده که درذیل به طور خلاصه تشریح می گردد.

۱–نظام سرمایه داری بر اساس رابطه میان مالکیت سرمایه و کار دستمزدی تشکیل شده است که این امر محور اصلی نظام طبقاتی را می سازد.

–در قلمرو اقتصادی با توجه به نرخ های بالای نو آوری، روابط اقتصادی بر نهاد های دیگر همیشه نفوذچشمگیر دارد.

–مالکیت سرمایه داری با پدیده ی فقدان داریی، یعنی همان کالایی شدن کار دستمزدی " قرارداد استخدام" ارتباط تنگاتنگ دارد.

– دولت به انباشت سرمایه نظارت چندانی ندارد.

از چهار موارد فوق چنین استنباط می گردد که سرمایه داری دانش خاصی را از صنعتگران می خواهد که باید مبتنی بر حد اکثر باز دهی درمدت زمان اندک همراه با انرژی ، سرمایه و کار اندبه دست آید.


منابع:

۱– تفاوت کشورهای توسعه یافته و در حال توسعه چیست؟ – ستاره / تاریخ نشر : ۲۸ / ۱ / ۱۴۰۱ / https://setare.com › news

۲– What is the Difference Between Developed Developing and …
https://pediaa.com › Countries

۳–واقع البحث العلمی فی الدول النامیهٔ مقارنهٔ بالدول المتقدمهٔ فی / تاریخ نشر : ۲۰۰۲ – ۲۰۰۶ / ttps://www.iasj.net › iasj › pdf

# اقتصادي خبرونه

**د نړۍ د پرمختللو هیوادونو اقتصادي وده له صنعتي فعالیتونو پیل شوې ده**

د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر آخوند د ملي اقتصاد د پیاوړتیا په موخه د افغانستان د اوسپنې ویلې کولو فابریکو د ملاتړ او هڅونې په موخه په کابل کې جوړه شوې غونډه کې ګډون او وینا وکړه.

د باختر آژانس د خبر له مخې، د اقتصادي مرستیالیت په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي چې په دې غونډه کې د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال، په خپلو خبرو کې وویل: له شک پرته د هیواد په اقتصادي وده کې د صنعتکارانو رول مهم دی او موږ خوشحاله یوو چې افغان صنعتکارانو خپل دغه رول په ډېرښه ډول ادا کړی دی.

اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د نړۍ د پرمختللو هیوادونو اقتصادي وده له صنعتي فعالیتونو پیل شوې او د صنعتي کېدو لپاره یې د کلونو کلونو اوږد سفر کړی دی. امید لرو چې افغانستان به هم دا مزل په کامیابۍ سره وکړي او په راتلونکي کې به یو پیاوړی اقتصاد ولري.

ملا برادر آخوند د اوسپنې ویلې کوونکو فابریکو ستاینغونډې ته یادونه وکړه د یو مسئول په صفت پر صنعتکارانو او سوداګرو غږ کوم، چې خپل تولیدات د معیارونو مطابق برابر کړي؛ ځکه اسلامي امارت که د هیواد او هیوادوالو د سوکالۍ په موخه صنعت ته لومړیتوب ورکوي، کیفیت او معیاربیا ورته تر ټولو لومړیتوب لري.

هغه زیاته کړه موږ د یو مسئول حکومت په توګه له ټولو صنعتکارانو او سوداګرو او په ځانګړي ډول د اوسپنې له ویلې کوونکو فابریکو څخه په کلکه ملاتړ کوو او هڅه کوو چې تاسو ته د برېښنا په برابرولو او دغه راز ستاسې د ځاني او مالي امنیت په تأمین کې لا ډېره همکاري وکړو.

نوموړي زیاته کړه لکه څنګه چې تاسو په جریان کې یاستئ، موږ له هیواد څخه د زړو اوسپنو د ایستل کېدو مخنیوی وکړ، هدف مو دا و چې ستاسې د خامو موادو ضرورت پوره کړو او د خپلو کورنیو تولیداتو ملاتړ وکړو.

د اقتصادي مرستیال په وینا، د افغانستان اسلامي امارت په پلان کې لري چې د شفافو بهیرونو له لارې د اوسپنې کانونه داوطلبۍ ته وړاندې کړي، ترڅو په راتلونکي کې زموږ د اوسپنې ویلې کوونکي فابریکې د خامو موادو له کمښت سره مخ نشي.

هغه د خپلو خبرو په پای کې، د هیواد له صنعتکارانو څخه مننه وکړه، چې دوی د خپل هیواد په اقتصادي وده او پراختیا، ولس ته د کاري فرصتونو په برابرولو او د هیوادوالو ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې کوښښ کوي.

**بانک جهانی: اقتصاد افغانستان در حال تنظیم شدن است**

بانک جهانی در گزارش سالانه خود به بررسی وضعیت افغانستان پرداخته است و آن را نگران کننده

»

گفته است. بانک جهانی در این گزارش که روز جمعه پخش شد، گفته است: پس از توقف کمک‌های بزرگ جامعه جهانی و واقعیت های سیاسی داخلی به افغانستان، اکنون اقتصاد این کشور از سر در حال تنظیم شدن است.




بانک جهانی تخمین زده است که سال روان سطح درآمد ناخالص ملی افغانستان از ۱۶ تا ۱۹ درصد کاهش داشته است و در صورت سطح کاهش کمک های جهانی و توقف انتقال پول نقد به افغانستان، ممکن ثبات پولی و بانکی این کشور از بین برود.

به قول این بانک، همین اکنون افغانستان در وضعیتی است که در بخش ارائه کمک‌های بشری و خدمات اولیه، حمایت اندک جهانیان را با خود دارد.

اما مقام های امارت اسلامی افغانستان می‌گویند، پس از حاکمیت دو باره امارت اسلامی، عواید ناخالص ملی کاهش نه، بل افزایش یافته است.

ذبیح الله مجاهد سخنگوی امارت اسلامی افغانستان میگوید: تلاش هایی برای بهبود اقتصاد جریان دارند. تنها حکومت در این مسئول نیست، باید همه جوانب، مانند تاجرملی، سرمایه گذاران، و کشورهای که می‌خواهند با افغانان همکاری کنند، همه شان باید با ما در بخش سرمایه گذاری، رشد تجارت و ایجاد سهولت در سیستم بانکی سهم بگیرند.

---

سرچینه:

https://bakhtarnews.af



# ځوانانو! که غواړئ چې ښه اقتصاد ولرئ دا کارونه تر سره کړئ

لیکنه: ح ن

ځوانان د یو هیواد د اقتصاد د ملا تیر جوړوي. دې ټکي ته په کتلو سره ویلای شو چې که ځوانان په ښه توګه وروزل شي او له وخت څخه ښه ګټه پورته کړي او غوره مسلکي وړتیاوې تر لاسه کړي کولای شي چې د هیواد په اقتصادي جوړونه کې غوره رول تر سره کړي.

په دې مقاله کې غواړو د ځوانانو لپاره چې بریالی ژوند ولري او شتمن شي داسې لارې چارې بیانوو چې پر پلي کېدو سره به یې د اسلام، هیواد او کورنۍ لپاره د خدمت جوګه وي.

**د مسلکي پوهې سره سم د سوداګرۍ پیل**

که غواړئ چې ښه راتلونکې ولرئ او سوداګري مو بریالیتوب ته ورسېږي، نو اړینه ده چې خپله سوداګري له مسلکي وړتیا سره سمه پیل کړئ. معنا دا چې تاسو په هره برخه کې مهارت لری په همغه برخه کې سوداګري پیل کړی دا چاره کولای شي ستاسو د سوداګرۍ په بریالیتوب کې مرسته وکړي.

د بېلګې په توګه که تاسو د بریښنا په برخه کې زده کړې لری او غواړئ چې سوداګري پیل کړئ غوره به وي چې د همدې برخې د توکو سوداګري وکړئ، ځکه تاسو د همدې برخې مسلکي یاست او کولای شئ په دې برخه کې نسبت نورو سوداګرو ته ډېر بریالی و اوسی.

**د پانګونې مهارت زده کړئ!**

د پانګې اچونې مهارت زده کول د ژوند له مهمو اړتیاوو دي. که تاسو وکولای شی چې د پانګې اچونې مهارتونه په ښه ډول زده کړئ دا چاره به تاسو ته د دې چانس درکړي چې پر دې پوه شی چې چېرته، څه ډول پانګونه وکړئ.

**د عاید لارې مو زیاتې کړئ!**

که غواړئ چې شتمن شئ او بریالی ژوند

»

ولړئ، نو اړتیا ده چې تاسو دا عادت هم ولړئ چې په کم عاید قناعت و نکړئ. د قناعت نه کولو څخه زمونږ موخه دا نه ده چې خدای ناخواسته مونږ له تاسو څخه غواړو چې تر خپل حق ډېر څه وغواړئ، بلکې زمونږ موخه دا ده چې تاسو یوازې په یو عاید اکتفا مه کوئ، بلکې د عاید پر نورو لارو چارو هم فکر وکړئ او د ځان او خپلې کورنۍ لپاره د عاید نورې لارې هم برابرې کړئ.

**د خوښې وړ مسلك تعقیب کړئ!**

که تاسو هر څومره ښه دنده هم ولرئ او ښه ځای کې کار وکړئ، خو که له خپلې دندې سره علاقه و نه لرئ، نه شی کولای چې شتمن شئ او یا هم په سوداګرۍ کې بریالیتوب تر لاسه کړئ. نو که غواړئ چې شتمن شی او سوداګري مو وده وکړي د خپلې خوښې وړ دنده پیدا کړئ. د خپلې خوښې دنده کولای شي په هر ډګر کې ستاسو مرسته وکړي او د چارو پر وړاندې مو خنډونه له منځه یوسي.

**پلان جوړونه ( برنامه ریزي) وکړئ**

بریالي کسان هغه دي چې پلان جوړونه کوي او چارې د خپل پلان مطابق مخته وړي. که تاسو هم غواړئ چې بریالي شئ او ژوند کې له ستونزو سره لاس او ګریوان نه شئ غوره ده چې د ټولو چارو د پرمختګ لپاره پلان ولری او د خپل پلان مطابق مخته لاړ شئ.

د نړۍ ټول لوی او کوچني سوداګر د خپلو سوداګریو لپاره لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله پلانونه لري او د همدې پلانونو پر مټ مخته روان دي. د پلان جوړونې ګټه دا ده چې د سوداګرۍ او هرې بلې چارې پر وړاندې شته ستونزو د حل لارې پیدا کوي او خنډونه له منځه وړي.

**خطر پر ځان قبول کړئ**

په نړۍ کې ټول سوداګر چې اوس ښې شتمنی لري او سوداګریو یې وده کړې ده دوی د خپلو سوداګریو او کاروبارونو د پیل پر مهال پر ځان خطر قبول کړی او بلاخره بریا ته رسېدلي دي. که تاسو هم غواړئ چې شتمن شي او سوداګري مو وده وکړي اړینه ده چې پر ځان خطر قبول کړی.

له خطر څخه زمونږ موخه دا نه ده چې تاسو جنګ وکړی او یا هم ځان له لوړ ځای څخه را و غورځوئ، بلکې دلته زمونږ موخه دا ده چې په نویو سوداګریو کې شته خطرونه پر ځان ومنی او په هر ډول شرایطو کې د پانګونې لپاره لارې چارې پیدا کړئ.

**موخې و ټاکئ**

هر انسان باید په ژوند کې موخې ولري. که غواړئ چې شتمن شئ او سوداګري مو وده وکړي په کار ده چې د خپلو چارو د پرمختګ لپاره ټاکلې موخې ولرئ.دا چاره کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي چې ښه ژوند ولرئ او منزل ته په رسېدو کې له ستونزو سره لاس او ګریوان نه شئ.

**تمرکز ولرئ**

پر چارو تمرکز بریا ته د رسېدو لار ده. که تاسو فکر کړی وي ډېری هغه کسان چې بریا ته رسېدلي د غوره تمرکز لرونکي کسان دي. معنا دا چې بریالي کسان پر چارو تمرکز لري او همدا تمرکز لرل د دې لامل شوي دي چې خپلې چارې په ښه ډول مخته یوسي. نو که تاسو هم غواړئ چې بریا تر لاسه کړئ او یا هم شتمن شئ په کار ده چې پر خپلو چارو پوره تمرکز ولرئ او غوره پایلې تر لاسه کړئ.

**سخت نه، بلکې ځیرکانه هڅه وکړه**

ډېری کسان فکر کوي چې که ډېر کار وکړي او پر ځان سختۍ راولي له دې لارې به بریا تر لاسه کړي، خو داسې نده. که تاسو غواړئ چې بریا تر لاسه کړي او موخې ته مو په آسانۍ سره ځان ورسوئ د چارو د پرمختګ لپاره له پوره ځیرکتیا کار کار وکړی او له دې لارې د لوبې ګټونکي شئ.

**د وخت مدیریت مه هېروئ**

که غواړئ چې وخت مو بېځایه مصرف نه شي او د ژوند په هره مرحله کې ګټونکي تاسو شئ، نو په کار ده چې د وخت مدیریت ته لومړیتوب ورکړئ.

**ورزش او مطالعه پر ځان حتمي کړئ**

پښتو ژبه کې یو متل لرو چې وایي: روغ صحت پادشاهي ده، نو که غواړئ روغ صحت ولرئ او له دې لوی نعمت او پادشاهۍ برخمن شئ، نو ورزش وکړئ او مطالعه مه هېروئ.دا دوه څېزونه له ځان سره دنیوي او اخروي ګټې لري او پر مټ یې تاسو د ژوند په بېلابېلو پړاونو کې بریاوې تر لاسه کولای شئ.




# آیا می خواهید شغل پُر درآمد داشته باشید

عبدالحفیظ شاهین

بیشتر افراد به دنبال شغل های پُر درآمد بوده، می خواهند به نفع بیشتر دسترسی پیدا کرده و بر زندگی شان تغییرات مثبت ایجاد نمایند. در ابتدا برای اینکه بتوانید شغل های پر درآمد مورد نظر خود را شناسایی کنید، لازم است تا در مورد آن همیشه معلومات کسب کرده و اطلاعات خود را در مورد آن بالا ببرید.

در این عرصه باید نیازمندی های جامعه مورد بررسی قرار گیرد تا اطمینان حاصل شود که مشتریان آن نیازمندی آمار بزرگی در جامعه را تشکیل می دهد. قبل از اقدام در یک عرصه، باید هر روز در آن زمینه تحقیق و بررسی صورت گرفته و مطابق آن شغل ایجاد گردد.

در بیشتر پایگاه های انترنتی جهان لست پُر مخاطب ترین مشاغل همه روزه منتشر می گردد که مهمترین آنها عبارت اند از خدمات صحی، داشتن تخصص در بخش زراعت، توسعه دهنده ویب، شغل انترنتی، خدمات پستی، کودکستان و غیره می باشند که در افغانستان نیز متقاضی زیاد دارند و نیاز اساسی جامعه ما نیز می باشند که در ذیل بطور خلاصه از هرکدام آنها نام برده می شوند.

داشتن تخصص در بخش زراعت: داشتن تخصص در بخش زراعت، ابزار و تکنالوژی های جدید در این عرصه می تواند شروع خوبی برای ورود انکشاف زراعت و بازار کار باشد. آغاز این کار نیاز به مصارف هنگفت نداشته و می توان با کسب درآمد از آن به آموزش شاخه های دیگر زراعت نیز ورود پیدا کرد.

فعالیت در بخش زراعت با توجه به نو آوری و خلاقیت ضرورت به پشتکار کسانی دارد که خواهان منفعت بیشتر در زندگی خود می باشند. بر اساس معلومات موجود حدود ۸۰ درصد مردم افغانستان در بخشزراعت فعالیت می کنند. تا حال این

»

بخش اقتصادی کاملاً سنتی بوده و وارد روش نوین نگردیده است که با بالا بردن دانش و مهارت مسلکی می توان در این عرصه فعالیت های چشمگیری اقتصادی داشت.

داشتن شغل تخصص صحی: این رشته به شکل تخصصی کمتر در پوهنتون های افغانستان تدریس می گردد. بناءً مردم نیاز بیشتر به متخصصین این عرصه دارند. آموزش و فعالیت در این بخش از جمله کار های پُر در آمد محسوب می گردد. به علت کمبود متخصصین در این زمینه بسیاری ازشفاخانه های افغانستان با مشکلات جدی مواجه است و داشتن مهارت در این عرصه درآمد خوبی دارد.

شغل انترنتی:

در این اواخر کسب و کار انترنتی به مشاغل پُر منفعت مبدل شده و افراد می توانند به بسیار راحتی حتی در جریان سفر می توانند به کسب و کار شان ادامه دهند. در حال حاضر بیشتر کار های سنتی به سمت انترنتی شدن می روند. فعالیت در این عرصه نیازی به سرمایه بیشتر نداشته، دانش اندکی در مورد سایت و ایجاد آن ضروری می باشد.

یکی از خوبی های فعالیت در این عرصه این است که ضرورت به انرژی و زمان ندارد. تنها و تنها داشتن انگیزه و علاقه می تواند افراد را در این عرصه موفق سازد. در این مورد باید تخصص و مهارت بالا برده شود تا با سرعت هرچه بیشتر به سمت موفقیت حرکت صورت گیرد.

-شغل طراحی ویب سایت: در شغل طراحی ویب سایت لازم است تا از یاد گیری خسته نشده، بطور مداوم از طراحی لذت ببرد، با داشتن چنین ویژگی یک فرد می تواند در ساخت و ساز ویب سایت به جایگاه خوبی برسد. این شغل همیشه وابسته به مهارت و دانش می باشد.

در این بخش، هر چه تلاش بیشتر صورت گیرد تعداد افرادی که مشتاق سفارش وب سایت هستند روز بروز بیشتر می گردد. از این رو می توان چنین حدس زد که این شغل رو به رشد می باشد. اگر می توانید ساعات زیادی را با کمپیوتر سپری کرده و در ضمن استعداد طراحی گرافیکی را نیز داشته باشید، در ضمن از انجام کار های خلاقانه لذت ببرید می توان گفت که شغل وب سایت برای شما خیلی مناسب است.

خدمات پستی: فرستادن محصولات به مشتریان یک شیوه جدید تجارتی در افغانستان است که قسماً در بعضی ولایات افغانستان فعالیت های پستی وجود دارد. گرچه کار و بار و فعالیت های پستی نسبت به تجارت آنلاین به سرمایه بیشتر نیاز دارد، اما آینده خوب دارد. وقتیکه کسی یک جنس را از فروشگاه های آنلاین خریداری کند به شرکت های پستی نیاز است تا آنرا به صاحب اش برساند.

رستورانت: گرچه جامعه افغانستان یک جامعه سنتی است، با آنهم مردم تلاش دارند تا در شهر ها مسکن گزین شده و بسوی مُدرن شدن حرکت نمایند. کسانیکه در شهر ها مسکن گزین می شوند آنها کوشش می نمایند تا در جریان هفته یکی دو روز غذای شان را در بیرون از خانه صرف کنند. مالکین رستورانت ها می توانند مشتریان خود را به کتگوری های با درآمد خوب، متوسط و پایین تقسیم نموده و برای هرکدام مینوی غذایی ترتیب دهند تا مشتریان توان آمدن به رستورانت ها را داشته باشند و مالکین رستورانت ها درآمد خوب داشته باشند.

کودکستان: در شهر ها والدین بیشتر به بیرون از خانه وظیفه دارند، وقتیکه آنها به وظیفه خود می روند آنها مجبور می شوند تا اطفال شان را به کودکستان ببرند. کودکستان برای اطفال هم محل تعلیم و تربیه و محل حفاظت از آنها به شما می آید. بناءً در جا های که والدین کار های دولتی یا غیر دولتی دارند آنها جهت تربیه و حفاظت اطفال شان به کودکستان نیاز مند می باشند. ایجاد کودکستان ها در شهر ها و مکان های با جمعیت بیشتر یکی از بهترین شیوه با درآمد بالا محسوب می گردد.

ترمیم گاه موبایل: از مدت ها به این سو بازار موبایل های هوشمند در افغانستان خیلی گرم بوده و یک شغل پُر درآمد به شمار می رود.●

منابع:

۱–چگونه یک شغل پر درآمد داشته باشیم؟ | ارزش آفرینان افغانستان / تاریخ نشر: ۲۴ / ۱۰ / ۱۳۹۹ / https://avce.af

۲– کثر الوظائف دخلا فی العالم – موقع مقال : تاریخ نشر: ۲ /۳/ ۱۴۰۰

Top Jobs 2022 - High Paying Work From Home Job / Ad·https://www.receptix.com–۳



# په هیواد کې د جلغوزیو اقتصادي ارزښت

لیکنه: سیدخالد خالقیار

افغانستان یو کرنیز هیواد دی چې د وچو مېوو او جلغوزو زیات حاصلات لري، د جلغوزو ونې او ځنګلونه

د افغانستان دغه وچه مېوه په جنوبي او ختیځو ولایتونو لکه لغمان، کونړ، تګاب، نورستان، پکتیکا، پکتیا او خوست کې پیدا کېږي چې د پروسس او بسته بندۍ څخه وروسته نورو هیوادونو ته لکه هندوستان، پاکستان، چین او سعودي عربستان ته صادرېږي.

اوس د افغانستان جلغوزي په نیمه بیه ګاونډي هیواد ته صادرېږي چې د پروسس او ښه بسته بندۍ کولو نه وروسته د افغانستان جلغوزي تر خپل نوم صادروي او په لوړه بیه یې پلوري.

د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت د معلوماتو پر بنسټ افغانستان هر کال د سویل ختیځ ولایتونو خوست، پکتیا او

«

پکتیکا کې شاو خوا ۲۳ زره ټنه جلغوزي تولیدوي.

په پکتیا ولایت کې د شپږ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د جلغوزو د پروسس کارخونه جوړه شوې ده د دې کارخونې په فعالېدلو سره زیاتو بې روزګاره خلکو ته د کارو بار زمینه مساعده شوې ده. د دغې کارخونې تر فعالېدلو وروسته د خوست، پکتیا، پکتیکا او نورو ولایتونو لپاره د پروسس په برخه کې آسانتیا رامنځته شوې ده او د خلکو ستونزې پرې حل کېږي. یادې کارخونې د سویل ختیځ زون سر بېره په شرقي ولایتونو نورستان او کونړ کې د جلغوزو څخه د سالمې ګټې اخیستنې لپاره غوره فرصت رامنځته کړی دی، دولت باید د جلغوزو سوداګرو سره په هره برخه کې همکاري وکړي، تر څو د هیواد دغه وچه مېوه د افغانستان په خپل نوم بهرنیو هیوادونو ته صادره شي او د اقتصادي پیاوړتیا په برخه کې مرسته وکړي.دا ډول وچې مېوې د هیواد په صنعتی کېدو کې خپل ارزښت لري، افغانستان د وچو مېوو صادروونکو هیوادونو له ډلې څخه دی.د سوداګرۍ او صنعت وزارت معلومات ښيي چې افغانستان په کلني ډول د یو میلیار امریکایي ډالرو په ارزښت جلغوزي تولیدوي.

که چېرې په افغانستان کې د جلغوزو د سوداګرۍ بازارونه زیات شي، نو عواید به یې هم لوړ شي. په افغانستان کې د جلغوزو د تولید د ټولنې مسولین زیاتوي که چېرې د افغانستان جلغوزو صادراتو لپاره نورو هیوادونوته هوایي، ترانسپورتي او نورې لارې پرانېستل شي په صادراتو کې به زیاتوالی راشي.

د ننګرهار ولایت د کرني، اوبو لګونې او مالدارۍ ریاست د خپرو شوو معلوماتو پر بنسټ سږکال په ننګرهار ولایت او په بېلا بېلو ولسوالیو کې ۸۸۴ ټنه جلغوزي تولید شویدي، دغه جلغوزي په خوګیاني، بټي کوټ، هسکه مېنه، شیرزادو او په نورو ولسوالیو کې تولید شویدي.

معلومات ښيي چې د جلغوزو زیاتره برخه د خوګیاڼیو په ولسوالۍ کې له غوزو څخه ایستل کېږي.

د افغانستان جلغوزي په چین کې ستر بازار او ډېر مینه وال لري.چینایي پېرودونکي وایي: د افغانستان د جلغوزو پوستکي نازك او په اسانه توګه لرې کېږي ښه مغز او ښه خوند لري.

یادو هیوادونو پخوا به ددې جلغوزو زیاته برخه ګاونډیو هیوادونو ته په ټیټه بیه صادرېده، په دې جلغوزو باندې خپل نوم او مارکه لګوله او نورو هیوادونوته یې استوله د افغانستان د جلغوزود صادراتو لپاره چین او افغانستان په ۲۰۱۸ کال کې تړون لاسلیك کړ، او په همدې کال کې د هوایي دهلېزونو په وسیله د جلغوزو د صادراتو لړۍ پیل شوه او په څلورو میاشتو کې ۶۴ مستقیمو الوتنو کې د افغانستان څخه څه د پاسه ۱۰۰۰ ټنه جلغوزي چین ته ورسېدل ټولیز ارزښت یې ۱۵ میلیونو امریکایي ډالرو ته رسېږي.

جلغوزي د افغانستان له صادراتي توکو شمېرل کېږي چې لوړ ارزښت لري او په بېلا بېلو هیوادونو کې پلورلو لپاره بازارونه لري او د هیواد د عوایدو مهمه سرچینه ده.

ډېری وخت زمونږ سوداګرد خپلو صادراتي محصولاتو په برخه کې له »

ترانسپورتي ستونزو سره لاس او ګریوان وي. د دې لپاره چې سوداګرمو له ستونزوسره مخ نه شي په کارده چې له نړۍ سره د نښلېدو لپاره پر ترانسپورتي لارو کار وشي او له ګاونډيو هيوادونو سره د سوداګريزو اړيکود پراختيا لپاره بېلابېلې ترانسپورتي لارې رامنځته شي.د اوسپنې پټلۍ، بحري لارې او سړکونه هغه ترانسپورتي لارې دي چې د سوداګرو د مالونود لېږد په برخه کې آسانتياوې رامنځته کولای شي.

د کورنيو بازارونو نه شتون، د عصري ټکنالوژۍ د وسايلو کمښت، ترانسپورتي ستونزې، په اوسنيو شرايطو کې بانکي محدوديتونه اود افغانستان په نوم د يو شمېر هيوادونو لخوا په خپل نوم د افغانستان جلغوزيو صادرات هغه ستونزې دي چې د جلغوزيو سوداګرور سره مخ دي.

که چېرې د افغانستان اسلامي امارت د جلغوزيو سوداګر او پانګوالو لپاره په کور دننه بازارونه پيدا کړي او هغه نورې ستونزې چې سوداګر او پانګوال ورسره لاس او ګريوان دي د جلغوزيو په صادراتو کې به زياتوالی راشي او د هيواد په اقتصادي رغښت کې به مرسته وکړي اود خلکو لپاره به د کار زمينه مساعده شي.

د معلوماتو پر بنسټ روسيه هغه ستر هيواد دی چې په نړۍ کې د جلغوزيو ډېر حاصلات لري او نورو هيوادونو ته يې صادروي، منګولياهر کال ۱۰۰۰۰ ټنه جلغوزي توليدوي او د جلغوزيو د صادراتو په برخه کې د نړۍ دويم هيواد دی.

بلخوا چين په ټوله کې نړۍ هغه ستر هيواد دی چې ترټولو زيات جلغوزي واردوي.

د ياد ونې وړ ده چې په افغانستان کې د جلغوزو بازار د تېر کال په پرتله ۹۵ سلنه را ټيټ شوی دی چې في کيلو ګرام بيې تېر کال ۲۵ څخه تر ۳۵ امريکائي ډالره وې.

د جلغوزو ټولنې د معلوماتو له مخې په ۱۴۰۱ کال په بازارونو کې د جلغوزو يو کيلو ګرام بيه له ۱۲ امريکايي ډالرو څخه تر ۱۵ امريکايي ډالروپورې پلورل کېږي.●

---

سرچينې:

۱– د جلغوزو د صادراتو منعکول؛ پاکستان د افغانستان تورسرهزرپهنيمهبيهپيري https://www.google.com/search?q

۲- جلغوزي د ذهني سکون خوندور درمل https://www.google.com/search?

۳- پکتيا کې د ۶ مېليون ډالرو په ارزښت د جلغوزو د پروسس مرکز جوړيږي https://www.google.com/search?q=

۴- پکتياکې د جلغوزو د پروسسيو هلويهفابريکهپرانېستلشوه https://www.google.com/search?q

۵- دجلغوزېدحلاصلاتوزياتوالی؛خودبازارلهنشتواليپشکايتونه https://www.google.com/search?q

۶- سږ کالپهننګرهارکېدزيتونوحاصلنژدي ۹۰۰اودجلغوزيوڅهباندې ۸۰۰ټنهاټکلشويدي https://www.google.com/search?q=

۷- د افغانستان جلغوزي د يو کمربند او يوې لارې تر پلان لاندې په مستقيم ډول چين ته رسېدلي https://www.google.com/search?q=

۸- صادرات جلغوزه ۹۵ درصد کاهش يافتهاست https://www.google.com/search?q=

/https://quizzclub.com/trivia/which country is the largest producer of pine nuts Pinus sibirica in the world/answer/822279

۱۰ – د۱۰زرهټنهجلغوزيوپهمقابلکېيوميليارد ډالر عايد https://tkg.af/pashto/2021/12/06/




# مالي پوهه د پانګوالو په مالي مدیریت څه اغېزه لري؟

لیکنه: سید خالد خالقیار

د اوسنی نړۍ په یوه عصري ټولنه کې د پایښت لپاره او د مالي خدمتونو د تنوع او پېچلتیاوو سره د مقابلې په موخه مالي پوهې ته ډېره اړتیا لیدل کېږي، له همدې امله د خلکو تر منځ د مالي پوهې د کچې لوړول اړین دي. هغه کسان چې نوی یې په کار پیل کړی دی په پېچلي مالي بازار کې د بریا لپاره لومړنیو معلوماتو ته اړتیا لري، ترڅو د همدې معلوماتو پر بنسټ ارزونه تر سره او پرېکړې وکړي.

**مالي پوهه څه ده؟**

د مالي موضوعاتو په اړه پوهېدل او په دې برخه کې د سمې پرېکړې کولو وړتیا ته مالي پوهه ویل کېږي او یا هم د ژوند د موخواو مالي اقتصادي سوکالۍ د تر لاسه کولو لپاره اغېزناکې پرېکړې کولو او د شخصي او مالي چارو د ارزونې او په اغېزمنه توګه یې د اداره کولو وړتیا مالي پوهه بلل کېږي.

دا چې مالي پوهه د پیسو پر مالي »

مدیریت باندې ډېره اغېزه لري، نو اړینه ده چې د پیسو مدیریت په ساده بڼه تعریف شي.

**د پیسو مدیریت:** د مهمو سرچینو مطالعه ده چې د وګړو او کورنیو د مالي کامیابۍ لامل ګرځي. په همدې موخه د پیسو د مدیریت د اندازه کولو لپاره څلور فکتورونه وړاندې کېږي چې عبارت دي له: پورونه، نغدې پیسې، بیمه او سپما.

**شخصي مالي مدیریت:** یو شخص یا کورنۍ د ژوند د لګښتونو د پوره کولو لپاره مالي سرچینوته اړتیا لري. هغه پرېکړې چې د کورنۍ یا فرد لخوا د بودجې ، سپما او مالي سرچینو چمتو کولو لپاره تر سره کېږي شخصي مالي مدیریت بلل کېږي.

د مالي سرچینو لګښت کوونکي په دریو کټګوریو باندې وېشل شویدي:کورنۍ ( فامیلونه)، کوچنۍ، منځنۍ او لویې تصدۍ چې له دې ډلې ، کورنۍ د ژوند د لګښتونو لپاره د مالي سرچینو په لټه کې دي، مالي سرچینو ته لاسرسی او اړونده پوهه ییپه ژوند کې ډېر اړین مهارتونه دي چې باید په وړکتوب کې کوچنیانو ته ور زده کړای شي.

دا مهارتونه د ټولنیز چلند له پلوه دومره مهم دي چې هم د خلکو پر ژوند او هم پر ټولنې اغېزه لري، خو له بده مرغه زموږ په هیواد کې د وګړو د مالي پوهې کچه ډېره ټیټه ده، حتی هغه کسان چې د مالي او محاسبې په برخه کې یې لوړې زده کړې کړې دي د شخصي مالي تمویل پوره پوهه نه لري.

دا باید هېره نشي چې دا د اکادمیکو مهارتونو په څېر مهم علم دی د اقتصادي او مالي مهارتونو زده کول د خلکو لپاره ډېر اړین بلل کېږي.

مالي پوهه خلکو سره مرسته کوي، ترڅود کور او ژوند د مالي چارو مسؤلیت پر غاړه واخلي او د کور عواید اداره کړي، یا په بل عبارت د شخصي مالي مدیریت په پایله کې کولای شو چې د ناڅاپي پېرلو احساس کنترول اوقسطونه پر وخت ادا کړو، د پور د مقدار سره سم لګښت وکړو او شخصي مالي چارې په منظمه توګه اداره کړو.

د دې موضوع د ارزښت له امله پر مالي مدیریت د مالي علم د اغېزو په اړه ډېرې څېړنې تر سره شوې دي، د دې څېړنوپایلو ښودلې چې مالي پوهه دخلکو په شخصي مالي مدیریت مستقیمه اغېزه لري.

**د پانګوالو په اقتصادي ژوند کې د مالي پوهې ارزښت:**

په اوسني عصر کې نوي اقتصادي او مالي پرمختګونه رامنځته شویدي او خلک اړ دي چې د پرمختګ له پېچلتیاوو سره د مخ کېدو لپاره خپله مالي پوهه زیاته کړي.

د یادونې وړ ده چې په شخصي مالي چارو کې د تر سره شویو پرېکړو کیفیت د خلکو پر مالي پایښت باندې اوږد مهاله اغېزه لري، نامناسبې پرېکړې کولای شي په دې لاره کې منفي او نه جبرانېدونکې اغېزې ولري. په ټول کې ویلای شو چې مناسبه مالي پوهه مهارتونه د خلکو د مالي هوساینې لامل کېږي او یو پانګوال چې مالي پوهه ونه لري نه شي کولای د مالي بازار څخه په ښه توګه کار واخلي او په پایله کې اغېزناکه پانګونه وکړي.

# اطلاعیه د افغانستان بانک

به اطلاع تمام هموطنان به خصوص مشــتریان شــرکت تادیاتی پرداخت های سریع (Networking Fast Pay) رسانیده میشود که بنا بر ملاحــظات موجود و حسب لزوم دید دافغانستان بانک جواز فعالیت شرکت متذکره بتاریخ ۱۴۴۴/۳/۱۳ فسخ گردیده است. بدینوسیله موضوع جهت آگاهی هموطنان گرامی و بطور خاص به مشتریان شرکت یاد شده، رسانیده میشــود تا از انجام فعالیت با این شرکت خودداری نمایند.



# د افغانستان بانک خبرتیا

ټولو درنو هېوادوالو په ځانګړې توګه د چټکو ادواینو شرکت (Networking Fast Pay) پېرودونکو ته خبر ورکول کېږي چې، د شته کتنو له مخې، د افغانستان بانک لخوا د یاد شرکت جواز د روان کال په ۱۴۴۴/۳/۱۳ نېټه فسخ (ختم) شوی دی. له همدې کبله درنو هېوادوالو او په ځانګړې توګه د دې شرکت پېرودونکو ته خبر ورکول کېږي چې له یاد شرکت سره معاملې تر سره نه کړي.



# هموطنان عزیز!

خوشبختانه سکتور بانکی از مرحله بحران بیرون شده و اکنون فعالیتهای آن در مسیر عادی سازی قرار گرفته است. از شما قدردانی می کنیم که در این مدت با حوصله مندی در کنار ما بودید، اما این پایان کار نیست. ما به همکاری شما ضرورت داریم. دست به دست ما دهید تا سکتور بانکی را به مرحله توسعه ببریم.

شما با اعتمادیکه به سکتور بانکی می کنید، این دستاورد را می توانید رقم زنید.








**توسعه و انکشاف** = **بانک** + **مردم**

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال شانزدهم شماره ۱۸۳ ربیع الاول ۱۴۴۴ (میزان ۱۴۰۱)

